عبدالله نجات

۲۰۱۵/۰۶/۱۵

# پر تساهل او ځغم ولاړی اخلاقی پرېکړی او درېځونه

په پښتو کی ډېر ځله پوهانو او دادب مینه والو په تېره بیا د ارواح پوهنی او دټولنیزو چارو پوهانو «ځغم » دتساهل په مانا هم کارولی دئ.که څه هم زما په اند دپښتو دغه کلمه په مروجو علمی او فلسفي ادبیاتو کې د افاده شوي تساهل مانا او مفهوم نه رسوي خو زه یې دلته په همدې مفهوم په پام کې نیسم او هغه کاروم. نو هیله ده دغه کلمه په همدی مفهوم فرض او په پام کې ونېول شي . پدې لنډه کتنه کې دبحث موضوع تساهل هم نده دخبرو اصلي ټکی د اخلاقیاتو دتوکو او ارونو دڅنګه توب او یا په بله وینا داخلاقی مقولی یا مقولو ماهیت پېژندنه او دهغی څنګه توب دئ .

مونږ دلته راتلونکو خبرو کې ، موضوع له ځانګړی اړخه بحث لاندی نیسو، خو زمونږ دخبرو اړخونه ټاکلئ ټپوس او خبري پیله ولري. آیا اخلاقی منښتونه او دهغه ننني دیالکتیک دکوټلي او غوڅ پریکړه لیک کرښی دي که دخړوبېدو سرچینی یې له بشري یون څخه سرچینه اخلي .آیا اخلاق دتور او سپین ترمنځ اېستل شوې کرښه ده چې له مخکې یې بریدونه کاږل شوي؟.روغ سپیناوي ته رغنده او کوټلی پرېکړې او منلي ارزښت ته رسیدنه او ، آزادي او انتقاد چې بریدونه ټاکي پدې مقوله کې څنګه ځان ښکاره کولی شی؟.دکذب او رښتیا انسانی وېش او منښته څنګه جوتېدای شی ؟

تساهل د دوو اضدادو تر منځ خپلې پنګې او ځانګېرنې له مخې څنګه تعریفوو ؟ دلته د انصاف برابرتیا او خپلواکی لارې څنګه غځېږي ؟ وییل کیږي چې دځغم او انتقاد تر منځ ظاهري مخامختیا او تعارض کولئ سو دځینو اخلاقي قواعدو دمنلو له مخې چې ټولو ته دعیني حقایقو په توګه د اعتبار وړ دي(وي)، لیرې کړو .دغه راز کولئ سو د نورو په وړاندې د لوی زړه یا په اکادمیکه ژبه دلوی او آزاد سوچ خاوند ووسو. انګېرل کیږي چې اخلاقي اړیکو اوبهیر کې ښایي د اضدادو روغه (وحدت) په پام کې ونیسو چې د سمې کارېدنې له مخې کارندوی او ګټندوی ثابتېدای شي . یا نی مونږ دلته د یوه یون په بهیر کی داسې توکو سره مخامخ یاستو چې مطلق او نسبی توب سره غاړه غړی دي. دوه خواوې او دوه شهوده. یانی دلته اخلاق ددې شهودو له مخې هم لاره وهي هم د سپیناوي اډانه جوړوي چې هلته دچانیدو میچانی او لوری ورکوونکئ چورلیځی رامنځ ته کیږی. نو پدې توګه په اخلاقي اډانه کې مونږ یو ذاتي خوځنده یوون وینو چې ښایي ظاهراً متعارض وبرېښی :

له یوې خوا مونږ غواړو بېلابېلو اخلاقي اندنو ته درناوئ ولرو له بلې خوا د اخلاق جوهر دادئ چې مونږ باید دا وس ولرو چې یو بل ته ګوته ونیسو –انتقاد وکړو.ځینې لوېدیزوال پدې اندېښمن دي نشی چې شوونیست او قامپاله وشمېرل شي پدې توګه نور ددې دعوا نکوي چې نور دې دهغوی ارزښتونه ومني. ځکه چې دا غوښتنه کیدای شي نورو کلتورونو ته د نه درناوی په مانا حساب شي . همدی ترڅ کې، کېدای شي چې داسی ډول اخلاقي تشکیک ته هم ورسیږي چې زیان ېې تر ګټې لوړ (دروند) وي.که کوم ختیځ- نړېوال نرخ او ارزښت موجود نه وي دبشر حقوقي نظریه به خپل اعتبار له لاسه ورکړي او نورو کلتورونو څخه به د رغوونکې کره کتنی لمن ټوله شي.

ځانګړي کلتور ته زمونږ درناوئ ښایي ددې څرګندوی وي چې مونږ باید په نوموړی کلتور کې د وګړو د حقونو دنقضېدو په باب یا کم له کمه دهغوی دحقونو د څرنګوالي په اړه زمونږ د انګېرنو ته ځیر ؤ. دا پدې دلالت کوي چې دبشر دحقونو په اړه هرمعقول دریځ باید له نسبي توب او غوڅپرېکون (مطلقواله اونسبی والی)خوندي وي .د انتقاد او تساهل ترمنځ تعارض ځینو اخلاقي قواعدو په منلو سره چې ټولو لپاره دعیني حقایقو په نوم اعتبار لري ، کولئ شو لېری کړو. او همدغه راز کولئ شو د نورو په وړاندی پراخ نظره او آزادخیاله ووسو .اخلاقی شهود پالنه ددې پوهې لپاره نظري چوکاټ برابروي . ډېر ځلې بشري حقونو پورې اړوند بحثونو کې، دنسبي توب دریځ سره مخامخ کیږو.چې په ظاهرې توګه دتساهل په مفهوم کې ریشه لري .لدې کبله چې هرڅوک هر څوک غواړي .(ټول ټول غواړي) د نورو کلتورونو او رسمونو په وړاندی روغ دود لری.

ددی په باب چې تر کومه کولئ شي ومني چې د بشر لپاره ځینې حقوق شته چې ښایي ځینو حقونو ملتیا ونشی کړای او پرې بی ګمانه کیږي. دغه راز بشری تجربې ښودلي چې پر نورو ټولنو دځانګړو ارزښتونو او قواعدو د ټولګو نوم اېښودل اخلاقی ضد پایلی رامنځ ته کړي دي. نسبي پلوه پدې ګروهمن دي چې هیڅ عینی ظوابط نشته او ان پدی باور دي چې د کارونو او کړنو ښه او بدوالی ، سموالی او ناسموالی د وګړو او ډلو په عقایدو پوری تړلی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي. یانی دا فردي فکرونه او انګېرنی دي چی بریدونه ټاکی . ځینی پوهان نسبیتوب پلوي کومه قانع کوونکی اخلاقی نظریه نه مني .هغه داچي مونږ ته دغه حق نه راکوي چي د خپل کلتور له پولو نه اخوا انتقاد کولو ته زړه ښه کړو. راځئ یو زورواکه ټوتالیتر نظام په پام کې ونیسو چي په هغه کې بی ګناه انسانان دساري په توګه سیاسي مخالفان شکنجه اوګواښل کیږي .
ددي هېواد مشران او واکمن وایي چي بشري حقونو اعلامیه یوازی لوېدیزواله انګروزه(پروپېګنډه) او ترون دئ . دوی د لویدیز خلکو ته وایی چي تاسو نښایي زمونږ په کورنیو چارو او کلتور کې لاسوهنه وکړئ .دا مثال ښیي چي نسبي واله په ډېره ستونځمنه توګه عملی جامه اغوندي .آیا نسبي پلوو ته ښایي ، جبر او اکراه چي په ټوتالیتر نظام کي کارول کیږی ومني؟ دنسبی توب پلویان باید د دغو دوو تر منځ دیوی خوا دچلن لار- ارزښت ومني . له دغو دوو دیوه منل اوانتخاب ښايي پدې مانا وي چي نسبي پلوي عملاً نشي کولئ پرخپل شکمن دریځ باندې ټینګ پاتی شي .بله خوا، نه خوښون او خوښون ته زړه ښه کولو نه ډډه کول به هم په وضع کې هیڅ کوم بدلون رامنځ ته نکړي ، چي دغه دریځ به دیوی عملي اړتیا په توګه ددي مانا ولري چي د واکمنو مدعاوی روغي او رېښتینی وي ! نسبیتوب د اخلاقی جوهر په اپسارولو کي کمزوری دئ .
دلته وېیل کېږي که چېرې مونږ کوم حکم واوروو باور لرو چي دا کار سم یا نا سم دئ او مهمه نده چي نور کسان ددې کار په اړه څه او کومی ارزونی لري .دلته عقیده داده چي خلک کولئ شي په خپلو اخلاقي حکمونو کي تېر ووځي .که چیرې څوک «سپک » نیک وبولي او «نیک» سپک ،نو یوازی پسخا او مسکېدا باندې بسنه نه کوو، بلکی دا وایو چي دغه خبرې خطاوي دي. ، دا هم ویل کیږي چي اخلاقي نسبي واله یا نسبي پلوي داخلاقي تجربی له مخی هم زمونږ مشهوداتو سره ځنګ نه لګوي .که مونږ حکم وکړو چي پلانی کار ناسم دئ ،ګروهمن یو چي نوموړی کار ربنتیا هم ناسم دی .او دا یوازی پدې دلیل نه چي مونږ ځانګړي روزل شوي او یا پالل شوي یو.
دلته ددی یادونه هم اړینه ښکاري او هغه داچي مونږ باید دیوې توصیفي نظریې په توګه دنسبي انګېرنې او دیوه اخلاقي معیار په توګه دنسبي انګیرنې او نسبي توب ترمنځ تمیز په پام کې ونیسو. داپدې مانا چي بېلابېل کلتورونه بېلابېل اخلاقي نظامونه لري .ددې سره دا واقعیت ددې لامل نشي کېدای چي مونږ له هغې توصیفي ادعا څخه دي اخلاقي معیار ته ورسیږو چي مونږ باید نورو فرهنګونو کي بېلابېلو اخلاقي عقایدو ته درناوی وکړو .
لېدل کیږي چي نسبي انګېرنه یا نسبي پلوي لدې کبله خلکو ته زړه راښکونکی ده چي سوچ کوي نسبي پلوي یانسبي واله د دګم پالني یوازینی بدیل دئ؛ زمونږ پام وړ لید لوري کي دا یو باطل توصیفي وېش برېښي .هر څوک کولئ شي بی لدې چي دګماتیست وي کلیت ومنی او په اخلاقي واقعیت توب هم باوري وي .که مونږ ادعا ولرو چي ځانګړی اخلاقي باور په عینی او کلي توګه رښتیا ده ، دهغه باور د جزمیت او دګماتیست والي کچه به دهغی ګروهي یا باور منځپانګی سره پیوستون ولري. یا په بله وینا مونږ باید د هغه کسانو په اړه ،چي دهغوی عقیدې زمونږ له عقیدو سره تو پیر لري، درناوی ومنو . دا یو رښتینی دګماتیک اصل دئ.
یوه عالم دتسامح او واقعیت پالنې په باب وېیلي: هغه څه چي اخلاقي واقعیت پلوي یې نه مني دا دي چي مونږ باید تسامح ،ځغم- پخلاینه په مناسبو مواردو کي ددې عقیدې زېږنده وګڼو چي اصلاً پدې مواردو کي روغ ځوابونه نشته .غوره داده چي نفس تسامح په هغوموادردو کي سم اخلاقی غبرګون وګڼو چي هغه دنورو استقلالیت په رسمیت پېژندنه او دخپل ژوند اداره کولو لپاره د وګړو دحق په رسمیت پېژندنه ده . واقعیت پلوي او تسامح یو له بله نا پخلاتوب نلري.
دغه پوهان وایي دتسامح اصل کولئ شو دنورو پر رسمیت پېژندنې باندې ټینګ ودروو .ښه ده چي د استقلالیت اصل په لاندې ډول بیان کړو چي هر انسان حق لري خپل ژوند په خپله اداره کړي !
ښکاری داسي چي دا د دي (مطلب ) پوخ دلیل دئ چي ولي نورو سره روغه تګلاره –تسامح غوره او وړ برېښي. خو بیا هم بې بریده تسامح او ګذشت او دنورو استقلالیت ته درناوی ښایي نامناسبه او بی ډبه حالات رامنځ ته کړي .ایا دداسي شخص په باب کولای شو روغه او تسامح ومنو چي بل شخص په وړاندې پدې خاطر ناسم چلن کوي چي هغه شخص دهغو وګړو له ډلي دئ چي لومړي شخص له سره داسي انګیري چي هغه تر ده ټیټ او ښکته دئ ؟ دا پر دې دلالت کوي چي د مدارا او استقلالیت اصلونه باید د برابرتیا اصل ؛ دې بیان سره وتړو چي«ټول انسانان باید له برابرو حقونو برخمن وی ». د برابرتیا او مساواتو د اصل څېبښ دا دی چي ټولو انسانانو سره باید په برابرو شرایطو کي برابر چلن وکړو. پرته لدې نور هر څه کېدای شي مونږ مجاز وګڼي چي بی دلیله او دخپلي خوښي توپیرونه د انسانانو دحقونو په اړه وکاروو .دا ټکی دیوه بل استدلالی فورم سره پرتلنه کولای شو : ساري په توګه مونږ نشو کولای حکم وکړو چي یوعمل داحمد لپاره ښه او دمحمود لپاره ناسم دی ، مګر دا چي ددې دواړو په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کرکترونو او طبیعیتونوکي داسي توپیر وپیژنو چي وکړای شو هغه د دوی په دندو او کړنو کي د معقولي سرچیني په نوم وشمېرو .
نوپدي توګه که زه حکم وکړم چي دغه کړل زما لپاره سم دي ،نو مانا به یې دا وي چي دغه کړل بل شخص لپاره ،چي دهغه طبیعت او شرایط زما له طبیعیت او شرایطو سره له ځینو اساسي لوریو او معیارونو له مخې توپیر ونلري ، هم سم دي .دمساواتو اصل پدې مانا دی که چېری حکم وکړو کوم څه یوه واحد شخص لپاره په اخلاقي توګه سم دي، بایده ده هماغه شانی حکم وکړو چي همدغه څه په ورته شرایطو کي دنورو انسانانو لپاره هم اخلاقاً سم دي.خلک دتوکمیزو،قامی اوجنسيتي څنګه توب په خاطر نشو کولای له یو لړ حقونو محروم کړو.خو سره ددي دا شونی ده چي قضیه داسي هم وي؛ دساري په توګه معلول انسانان یا ښځي له ځینو ځانګړو حقونو برخمني وي تر څو خپل ځانونه له خپلو ټاکلو او استثنايي اړتیاو سره ،چي دهغوی له نابرابرو شرایطو نه سرچینه اخلي، سم او برابر کړي. د استقلالیت اصل ددې په ټاکلو او سپینولو سره چي کوم حقونه ډېر غوره دي د برابری اصل ته غاړه ږدي. دمساواتو اصل داستقلالیت د اصل پولي او بریدونه ټاکي.
ددی اصولو تطبیق او پراتیک پدې مانا دی چي مونږ مجاز یو تر څو چي د نورو وکړو آزادي مو ګواښلی نده هر کار چي زمونږ خوښیږي تر سره کړو .د برابرتیا او استقلال د اصولو له مخې پدې اړه چي انسانانو سره څنګه چلن وکړو او دوی باید خپل ځانونه څنګه وروزي، ځانګړې لاري موجودي دي
ټولی.بشپړی اخلاقي زدکړې چي دې اصولو سره سمون ولري روغی او د منلو دي. د « هر اړخیزو اخلاقی ښوونو » تعبیر دګڼ اړخیزو دلایلو په اړوند بحثونو کی کارول کیږي.دغه تعبیر دهغو اخلاقي لیدلوریو څارونکی دي ،چي پدې باب لارښووني وړاندې کوي چي څنګه هغه ترتیب سره جوړه وکړو چي له مخې یې په دیني او لا دیني زدکړو کي پیرزو شوی نیک ژوند خپله تګلاره وګرځوو. دآزادی او مساواتو ارونه ددې خبرې سرچیني او پیلامې دي چي مونږ باید ګنو او جامع اخلاقي ښوونو سره چي زمونږ اخلاقي نظریو سره توپیر نلري د روغي او درناوي لاره غوره کړو ، مګر داچي دا ګنیز او جامع اندو واند دبل چا برابري آزادی سره تړلي حقونه تر پښو لاندی کړي .
که چېری کومه ګڼ اړخیزه اوجامع پوهه د برابری او آزادئ له اصل سره څنګ ونه لګوي ، هغه لید لوری رښتینې اوموجه نده او پر یوې داسي بشپړې اخلاقي نظریې ان که په بل کلتور پوری تړلي هم وي نېوکه کولئ شو.د یو داسي کړندود او کره کتني له مخې هم دګماتیسم او هم نسبی والی ځای نه مومي . پدې صورت کي به نور، نه کوم معتبره بشپړ او جامع یوازینی اخلاقی لیدلوریٔ او ښوونه شتون ولری چي ځان پر نورو ټولو انسانانو ور وتپي او نه به ټولی جامع اخلاقی ښوونی او نظریې یو مخه او یوشانی موجه او د منلو وي .
د دګماتیسم جزمی اندلوري دوه شرطونه دادی:
الف:یوازی یوه رښتونی ښوونه او کړنلاره موجوده ده .او
ب: هماغه رښتیانی یوازینۍ تګلاره باید پر ټولو انسانانو ومنل شي. سره ددې ، که څوک پدی ګروهه وي چي بشپړه اخلاقي ښوونلاره بې یوازینۍ سمه لاره ده ، خو پر نورو دهغی دمنلو نیت او تلوسه ونلري کیدای شي کړل یې ځغم- تېرېدا سره مل وي . دساري په توګه مسلمانان اوهندوان بیلابیلی ګروهی او انګیرنی لري او هر یو یې هم خپل عقاید سپېڅلي او رښتیاني ګڼي خو که چېرې دغه دواړه پدې لټه کې نه وي چي خپله د قواعدو برابر ژوند توګه یو پر بل ور ومني ،هغوی وچ اندی او دګماتیست ندی ځکه چي دوی د دګم او وچ اندتوب له مخی دڅه تحمیلولو ته مخه نده کړی د برابرتیا او استقلالیت ارونه تحمېلیدونکی توکي(ټکي) دي.
دمساواتو او استقلالیت ارونه اساسی اصول دي.نور ټوله اخلاقی اصولٍ ثانوی مقام لری .کوم ثانوي اصول چي مجاز ندي ، ښايي هغه اصول وي چي د وګړو او ډلو په نسبت تبعیض منونکي وي . ځیني اصول ښايي چي صوابي او روغ وي تر هغه چي دنورو انسانانو په باب ، برابری اوآزادئ پوری اړوندحقوق تر پښو لاندې نکړي ،کېدای شي چي بیلابېله دیني رنګینیو ،جنسی علایقو او سیاسي باورمندیو سره ګډ ژوند ولري .کېدای شي دا وویل شي چي د استقلال او مساواتو اصل منو او کولئ شو ددې تر څنګ ، جنسی آزادیو ته ورته مسلو په اړوند اختلافی لوري هم ولرو.خو بیا لدې سره سره هم مونږ نشو کولای دې ټکي ته قانع کوونکی دلیل وړاندی کړو .
که څوک وغواړي کومه ځانګړی لېوالتیا چي په خپله بشپړ اخلاقي زدکړه ولاړه وي ،دمساوات او استقلالیت داصولو له مخی مخنیوئ وکړی ، بایده ده وښیی چي دې کار ته لېوالتیا اوکاریدنه یې د نورو وګړو په آزادئ پوری اړوند حقوق تر پښو لاندی کوي . ښه مثال یې کیدای شی دهندوانو دطبقاتی نظام پلویتوب وی چي ځینی کسان یی دفاع کوی چي په هغی کی مذهبی ګروهه کوټلی او مسلمه انګېرل کیږی چي له مخی یې هر څوک چي په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

ټيټ ټولنيز پوری تړاو ولري په خپل پخوانی ژوند کی په اخلاقی توګه له هماغه پيله ټيټ شخص وو.دا کار ددی غوښتنه کوی چی بشپړاخلاقی زدکړه او ښوونه تر کار لاندی ونېول شی چی داستقلاليت او برابری پر اصل لومړېتوب اوغوره توب ولری.تناسخ هغه مفهوم دئ چې ديوې کوټلې اخلاقي زدکړي يوه برخه ده .که چېرې تناسخ او هغه بشپړ اخلاقی ښوونه د برابرتيا او استقلاليت له ارونو سره اړخ ونه لګوی دتناسخ پر انګېړنی ولاړ اوجوړ شوي اخلاقي اصول د برابرتيا او استقلاليت اصولو لاندې هم يو بل سره ځنګ اوپيوند نه لګوی .
په همدواړو مواردو کې بحث د دې پر سر ندئ چې داستقلاليت او برابرتيا ارونه څنګه وسپړو او تفسير يې کړو، بلکی ددې ده چې ايا دغه ارونه ډېر اساسي دي که پلانی بشپړه اخلاقی ښوونه يا زدکړه اساسي ده ! داستقلاليت او برابرتيا د اصلونو په اړه کولئ شو ووايو چې انسان بايد دغه واک ولری چی د يوه دين د قواعدو له مخې ،چی دی له کومی لېولتيا نه منع کوی يا ده ته په ټيټ طبقاتی پوړ کې ځای ورکوي، ژوند کول او ژوند توګه خوښه او وټاکی. که چېرې داسی پرېکړه دپوهی او آزادی له مخی او د دی دواړو په لرلو او ملتيا ترسره شی ، استقلاليت او برابرتيا ارونو سره به سمون ولري .خو که چېرې يو څوک په هر حالت کې د يوی داسی مذهبي ډلې غړئ وي او کنه،او ونه غواړی خپله لېولتيا او د خوښی آزادی تر پښو لاندی کړی او يا ونه غواړی ده سره د يوی ډېری ټيټی طبقی د وګړی په توګه چلن وشي ، بايد ده ته اجازه ورکړئ شي له هغو حقونو څخه چې د برابرتيا اود استقلاليت د ارونو له مخې ورڅخه برخمن دئ ورځينی کار او ګټه واخلي . دا کار د دې تصور ښکارندوی دئ چې د برابرتيا او استقلاليت ارونه لومړئ او په سر کی وګړو يا افرادو ته وېېل کيږي نه ډلو او ټولګيو ته. انسان کولای شي پرېکړه وکړي خپلې آزادی پوری اړوند ځينو حقونو څّخه تېر شي خو نشو کولی دی د دې چارو کولو ته اړ کړو مګر دا چې دی برابرئ او آزادی سره تړلی حقونه دنورو په باب تر پښو لاندې کړي . دبرابرتيا او استقلاليت ارونه د ځغم- جوړاوي اوتساهل بنسټيز سوچ ته دحقيقت جامه ور اغوندي همدا شانی دنسبي والی انګيرنی له ځان کتو او لېولتيا څخه هم ځان ځنګ ته ساتی .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ